

Baghlan University Academic
Research Journal
https://baghlan.edu.af/ Vol. 13, Issue. 2, Serial No. 37 (2025) 123-131

# Setting Image in ustad shpons literary work (once there was a grazier)

**Nasratullah Ghashtaly**

Department of Pashto Language and literature, Literature Faculty, Baghlan University, Afghanistan.

**Corresponding Author:** Nasratullah Ghashtaly, **E-mail:** n.ghashtaly@j.com

**Article Info**

**Article Type:**
Review Article

**Article History:**

**Received:**
9, February, 2025

**Accepted:**
20, August, 2025

**Published:**
20, August, 2025

**ABSTRACT**

From the analysis and research of this research paper, it is evident that the Pashto language is a story in the part which is considered an artistic aspect of the contemporary period, Professor Saaduddin herdsman has also worked in this artistic part. To the best of his ability, he has provided this section with the innovations of the current regional writer. In this research paper, various works of other authors have been read to express the analysis of this author's writing. To help analyze his writing. What prose pieces of his personal experiences we have read, from the interpretation and analysis of these examples, the conclusion is obtained that herdsman Sahib has created a very good picture to show the image of space and time in his own experiences. The purpose of this research paper is threefold. one; Introduction to the image of Scene in Saaduddin herdsman. two; In addition to the place, it does not refer to the era, and thirdly, it is to help as a guide for future readers and writers

**Keywords:** Key words: place, image, time, artistic prose, and emotion

To cite this article: Ghashtaly, N: 2025. Setting Image in ustad shpons literary work (once there was a grazier) . Baghlan University Academic Research Journal, Vol. 13, Issue. 2, Serial No. 37 - Summer (2025), 123-131.
License: RCTD – GNJR – 0018 - 23.
Publisher: University of Baghlan.



**د بغلان پوهنتون علمي او څېړنیزه مجله**

**مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان**

*https://baghlan.edu.af/ Vol 13. Issue. 2, Serial No. 37 (2025) 123-131*

# د استاد شپون په (و نه و یو شپون وو) کې د مکان تصویر

**پوهنیار نصرت الله غښتلی**

د بغلان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي، د پښتو ژبې او ادب څانګه.

**اطلاعات مقاله**

**نوع مقاله:**
مقاله مروری

**تاریخ دریافت:**
۱۴۰۳/۱۱/۲۱ هـش

**تاریخ پذیرش:**
۱۴۰۴/۰۵/۲۹ هـش

**تاریخ انتشار:**
۱۴۰۴/۰۵/۲۹ هـش

**لنډیز**

د دې څېړنیزې مقالې له تحلیل او څېړنې څخه څرګندېږي، چې د پښتو ژبې په کیسه‌ییزه برخه کې چې د معاصرې دورې یو هنري اړخ ګڼل کېږي، په دغه هنري برخه کې استاد سعدالدین شپون هم لاس په کارشوی دی، چې د خپل وس او توان په اندازه یې دغه برخه د اوسنې سیمه‌ییزو لیکوالانو له نوښتونو سره برابره کړې ده. په دغه څېړنیزه مقاله کې د نوموړي لیکوال د لیکنې د تحلیل د بیان لپاره د نورو لیکوالانو بېلابېل آثار لوستل شوي دي، تر څو د دې مقالې په تحلیل کې مرسته وکړي. د ده د ځان پېښو کومې نثرې ټوټې چې مونږ لوستلې دي، د یادو بېلګو له تفسیر او شننې څخه دا پایله تر لاسه کېږي، چې شپون صاحب په خپلو ځان پېښو کې د مکان او زمان د تصویر د ښودلو لپاره ډېره ښه انځور ګري کړې ده. د دې څېړنیزې مقالې موخه د دریو اړخونو لرونکې ده. یو؛ د استاد شپون په (و نه و یو شپون وو) کې د مکان د تصویر پېژندنه. دوه؛ د مکان تر څنګ زمان یادونه او دریم داچې د راتلونکو لوستونکو او لیکونکو لپاره د یو لارښود په توګه کته وره تمامه شي.

**کلیدي کلمې:** مکان، تصویر، زمان، هنري نثر او شپون.

استناد: غښتلی ، نصرت الله. (۱۴۰۴)، د استاد شپون په (و نه و یو شپون وو) کې د مکان تصویر ، مجله علمی-تحقیقی پوهنتون بغلان، شماره۲، تابستان (۱۴۰۴)، شماره مسلسل ۳۷، دور۱۳. (۱۲۳-۱۳۱) .
ناشر: پوهنتون بغلان.

**سریزه**

د پښتو ادبیاتو په معاصره ادبي دوره کې یو شمېر لیکوالانو او شاعرانو پښتو ژبې او ادب ته د نورو ژبو له ادبیاتو څخه په ګټه اخیستنې سره د خپل لید لوري له مخې ځیني نوې کتنې وکړې، چې په دغه لړ کې استاد سعدالدین شپون هم نشو هېرولای، شپون صاحب د خپل وس او توان په اندازه په کیسه‌ییز ادب او شعري بڼ کې ځیني ګلان وکرل، چې یادونه به یې په خپل ځای کې تر سره شي. داچې زموږ د بحث موضوع د استاد شپون په (و نه و یو شپون وو) کې د مکان تصویر تر سرلیک لاندې غوره شوې ده، د دې موضوع ټاکلو ته ځکه اړتیا ولیدل شوه، چې د نوموړي لیکوال د و نه و یو شپون وو، په کیسه‌ییزه برخه کې تر دغه یاد سرلیک لاندې لا تر اوسه پورې کومه څېړنه نه ده شوې، ښایي نورو څېړونکو به په دغه و نه و یو شپون وو کې تر نورو بېلابېلو سرلیکونو لاندې څېړنې ترسره کړي وي، خو دغه څېړنه په خپل ذات کې یوه نوې کتنه او څېړنه ده، داچې مکان بې له زمان څخه نشي راتلای؛ نو د مکان تر څنګ زمان هم پکې بیان شوی دی، چې دغه مطلب د موضوع ستونزه بیانوي.د موضوع اهیمت د ستونزې له بیان څخه څرګند دی، ځکه د نوموړي لیکوال په و نه و یو شپون وو کې د مکان د تصویر څېړنه لا تر اوسه پورې نه ده تر سره شوې؛ نو ومې غوښتل چې دغه تشه ډکه کړم. هره علمي کړنه ځانګړې موخه لري. زما د دې لیکنې موخه د مکان پېژندنه او نورو ته په و نه و یو شپون وو کې د مکان د تصویر بیانول دي.

**لیکنی تګلاره:** ښکاره ده، چې د دې څېړنې اصلي موضوع د استاد شپون په (و نه و یو شپون وو) کې د مکان تصویر ته کتنه ده؛ د دې څېړنې ډول کتابتوني او میتود یې تحلیلي او تشریحي دی.

**۱ . د استاد شپون لنډه پېژندنه**

استاد سعدالدین شپون چې په پښتو ادب کې یوه مشهوره ادبي او فرهنګي څېره ده، د نوموړي د پېژندګلوۍ په اړه په بېلابېلو ادبي کتابونو کې بېلابېلې څرګندونې تر سترګوکېږي، په دې اړوند پوهاند دوکتور بریالی باجوړی په خپل معاصر ادبتاریخ کې داسې لیکي:(( استاد شپون د ویښتیا پړاو مشهور لیکوال او شاعر دی، چې په ځانګړې توګه په معاصر داستاني ادب کې خاص ځای لري او د خپلو ناولونو له کبله هم مشهور دی. نوموړی په (۱۳۱۱هـ ش) د کندز ولایت د خان آباد ولسوالۍ د چارتوت په کلي کې زېږېدلی دی. د پلار نوم یې قاضي برهان الدین او په خټه خوګیانی دی.له (۱۳۱۹هـ ش) کال څخه یې زده کړې پیل کړې. لومړنۍ زده کړې یې د خان آباد په لومړني ښوونځي کې سرته و رسولې په (۱۳۲۷هـ ش) کال کابل ته ولاړ او د حبیبیې په لیسه کې

شامـــل شو. د دې ليـــسې له فـــراغت څـــــخه وروســـــته يـــــې د ادبيــــاتو پوهنـــځی ولـــوست او بيا د پــــښتو ټولـــنې عـــلمي غړی وټاکل شو.) (باجوړی،۱۳۹۹: ۱۷۸).

**۲ . د استاد شپون آثار**

استاد شپون يوه داسې علمي او اکاډمکه څېره تېره شوې ده، چې د هنري نثري آثارو ترڅنګ يې منظوم او څېړنيز آثار راپاتې شوي دي. د ده ټول آثار پوهاند دوکتور لعل پاچا ازمون راټول کړي دي او له هرې برخــــې څخه يې جلاجلا کليات جوړ کړی دی داچې د دې مقالې په لمن کې د ده د ټولو آثارو راوړل ناشوني دي؛ نو د موضوع له معنوي اړخ سره به سم يوازې د ده داستاني آثارو ته لنډه نغوته وکړو. ازمـــون د استاد شپون داستاني کليات ( په شګو کې سره زر) تر سرليک لاندې راټول کړی او په (۱۳۹۸ ل) کال کې يې چاپ کړی دی، د ده کيسه‌ييز يا داستاني آ ثار يې پکې راوړي دي، چې دغه لاندې برخې لري.(خورې ورې کيسې ـ د بنګي غاړه، شين ټاغی، ګټيالی، د سمڅې ياران ،ښايستو، يوه لويشت ژوند، زوړ سړی او سيند، و، نه و، يو شپون وو.

**۳. په (و نه و يو شپون وو) کې د مکان تصوير**

داچې(و نه و يو شپون وو) د استاد شپون د ځان پېښنو يا خاطرو د يوې ټولګې په نامه سره ياده شوې ده، څرنګه چې زموږ د بحث اصلي موضوع په دغه (ونه نه و يو شپون وو ) کې د مکان د تصوير څېړنه ده؛ نو په ترتيب سره په لنډه توګه د ځان پېښنې مکان او زمان، همداراز د تصوير کلمې ته تم شو.

يو؛ ځان پېښنې: د ليکوال د ژوند د پېښنو او خاطرو ليکلو ته وايي چې د ده ټول ژوند او يا د ژوند ځينــې برخــې را چاپېروي.په انګريزي ژبه کې ورته اتو بيو ګرافي (Autobiography) وايي په پښتو ژبه کې ورته د ځان پېښنو يا ځان پېښنې نومونه کارول شوې ده.په فارسي ژبه کې يې د خاطره ليکلو يا (خاطره نويسي) په نوم يادوي. په اردو ژبه کې ورته (اپ بيتي) وايي، خو د نوشت او حســـب حــــال نومونه هم ورته استعمال شوي دي.(باجوړی ، الف ،۱۳۹۴: ۱۴).

دوه؛ مکان او زمان : محمد آصيف عمر په خپل يو اثر کې چې د ښه ناول وپېژنئ په نامه سره يادېږي د مکان او زمان اړوند داسې ليکي: (( په ټوله کې بې له مکان څخه کيسه وجود نه لري، زمان او مکان له نقشې سره د پېښنو په تنظيم کې مرسته کوي چې هم کرکټرونه په ښه توګه تشريح کوي او هم کيسې ته له موضوع سره تړاو ورکوي.))( عمر، ۱۳۴۹: ۴۳). همدا راز د مکان او زمان د تړاو په اړه نثار احمد آريا په خپل يو اثر کې چې د ناول ليکنې تيوري نومېږي دا سې څرګندونې لري: (( زمان او

مکان هم د ناول له عناصرو څخه ګڼل کېږي، د ناول دې عنصر ته پاملرنه خاص ارزښت او موخې لري، د زمان او مکان د ښوولو لومړی لوی ارزښت په دې کې دی چې ناول حقیقت ته نژدې کوي، په ناول کې چې د زمان او مکان مشخصولوته هر [څونده ] ډېره پاملرنه وشي [هغونده] د ناول پر هنريت اغېز کوي او لوستونکي ته ريښتينی ښکاري.))( آريا، ۲۰۲۹: ۱۳۱).

درې؛ تصوير: د تصوير په اړه استاد اسدالله غضنفر په خپل يو اثر کې چې جادوګر هنر نومېږي داسې ليکي: (( د اروا پوهنې په اساس له حواسو سره د شيانو د مخامخېدنې په نتيجه کې چې په ذهن کې کوم صورت او شکل پيدا کېږي هغه احساس يا حسي ادارك بولو، خو كله چې دغه ذهني صورتونه له شيانو سره له مخامخېدو پرته په ذهن کې پيدا شي د خيال يا جز يي تصور په نوم يې يادوو.))( غضنفر، ۱۳۹۳: ۴۵۲). همداراز استاد اسد الله غضنفر او نجيب منلی په خپل يو ګډ اثر کې چې د ادبياتو دنيا نومېږي د تصوير په اړه دا سې ليکي: (( په داستانو نو کې ۹۰٪ راغلي تصويرونه معمولاً بصري وي، له سترګو سره تعلق لري په دې کې شك نشته چې نور خاص تصويرونه هم هنر ته خاص خوند ورکوي.)) ( غضنفر، الف ، ۱۳۹۹: ۲۱۹). داچې زموږ د څېړنې اصلي موضوع د استاد سعدالدين شپون په( و نه و يو شپون و) کې د مکان تصوير ته کتنه ده، نو د دغې موضوع د وضاحت او تحليل لپاره به د ( خان آباد مځکه او خلك ) تر سرليك لاندې ځانپېښې څخه يوه ټوټه هنري نثر ولولو: (( خان آباد او کندوز د شمال د پښتنو دوه لوی مرکزونه وو. په اصل کې د لوخو او دروو يو لوی ځنګل وه، چې تر نامه اوبه پکې ډنډ وې او د مور په وينا مې اوښ پکې ډوبېده، ترې چاپېره د غونډيو کړۍ تاوه وه، دا د بنګي د سيند اوبه وې چې ور وبهېدې او د وتلو لار يې غونډيو بنده کړې وه په پېړيو پېړيو دغه دروي او واښه په اوبو کې خوسا شوي او بيا په ختو کې اغږل شوي وو))(ازمون، الف، ۱۳۹۸: ۴۹۳). په دغه نثري ټوټه کې وينو چې ليکوال د خان آباد مځکه او خلك را پېژندلي دي، دلته کندوز او خان آباد د پښتنو دوه د هستوګنې مرکزونه ښودل شوي دي، سربېره پر دې يې د خان آباد ولسوالۍ داسې ترسيم يا انځور کړې ده چې د جغرافيايي موقيعت تر څنګ يې د يادې ولسوالۍ هغه انځورونه وړاندې کړي دي کوم چې لا پخوا پکې د هستوګنې کول ناشوني وه، بيا يې د تخار ولايت د بنګي د اوبو يادونه کړې چې دغه اوبه اوسمهال هم بهيږي، لنډه داچې په دغه نثري ټوټه کې، ځنګل، غونډۍ، لوخې، واښه، دروي او د بنګي اوبه د مکان لپاره د تصوير ښې بيلګې ګڼلای شو.

په یو بله نثري ټوټه کې چې د لارې خاطرې تر عنوان لاندې ده داسې لولو: (( د دې سفر یوه په زړه پورې پېښه په یوګوسلاویې، دوهمه په بلغاریې او درېیمه په هرات کې پېښه شوه. د یوګوسلاویې په مرکز بلګراد کې مو په یو پارک کې ډوډۍ خوړله.څه ډوډۍ د مومپلي پنځوس شپېته سانډوېچونه مو چې په جرمني کې جوړ کړي، زموږ د لارې څورې و، په ټوکرۍ کې مو راوړي وو په هغو مو شخوند واهه چې ګورم زموږ تر شا د بنیادم د سر د کوپړیو یو څلی ولاړ دی، زه لاړم ګرد چاپېر ترې تاو شوم په رښتیا چې هماغه (کله منار) و چې ما یې په داستانونو کې نوم اوریدلی و د هډوکو کوپړۍ د سترګو ژور غالي خالي، ژامې جینګې، یو ځایي سړي چې زموږ ترورتیا ولیدله نو خپله نیش توکي انګریزي یې راباندې وازمېیله:(دا منار عثماني ترکانو د خلکو د سرونو نه جوړ کړی وو چې نورو ته عبرت شي) ساندویچ راباندې زهر شو، خدای خبر چې رښتیا همداسې وه او که د سټالین کارنامه وه چې په ترکانو یې تپلې وه))( ازمون، الف، ۱۳۹۸: ۷۲۲). په دغه نثري ټوټه کې یوګو سلاوي، بلګرد، پارک او... نور د مکان لپاره د هیواد څخه بهر تصویرونه دي چې لیکوال د خپل د تجربې پرمټ انځور کړي، په دغه سفر کې دی له بېلابېلو پېښو سره په بېلابېلو مکانو کې مخ شوی دی چې د مکان د تصویر تر څنګ یې د انساني انځورونو ښودنه هم کړې ده، له دغه بیان څخه دا تر لاسه کولای شو چې لیکوال په دغه برخه کې د ډېر مهارت خاوند پاتې شوی دی.

د پورتني هنري متن په تسلسل کې د یوې بلې هنرې ټوټې په راړولو سره چې لیکوال په کې د یوې پېښې بیان هم کړی دی داسې لولو:(( بله پېښه دا وه چې د بلغاریې مرکز،صوفې ته د رسېدو سره سم راباندې ماښام شو، باران وریده، د ښار سړکونه داسې د ختو او چکړو ډک و، چې موټر پکې بندیده، خو ښار تش تور پروت و.هم ستړي وو، هم وږي. سانډویچ خو د سرحد نه اپلو د شیان په اروا تللي وو. د دوی په لوز نه پوهېدو او هیڅ څوک هم نه وو،چې سړې یې په اشاره پوه کړي، ښار داسې تیاره و، چې ماته یې د بامیانو شهر غلغله را یاده کړه. د سړک په سم منځ کې مې موټر ودراوه. دواړو غاړو ته دوکانونه خو وو، مګر ټول بند، خو د پلیو لار کې تر سړکه یو څه سودګې وه، تر زنګانه پورې چکړې نه وې ناڅپه مې یوه تته رڼا ولیده چې د یوه دوکانه راختله))(ازمون، الف ، ۱۳۹۸: ۷۲۳). په دغه پورته بېلګه کې د بلغارې مرکز، د ښار سړکونه، ختې او چکړې، د بامیانو شهر غلغله او دوکانونه د مکان لپاره د تصویر ښه بېلګه بللای شو، چې د خپل هیواد یو تاریخي ښار ته په کې اشاره کوي، پاتې دې نه وي چې په کیسه کې دغه ډول انځورول او تشبیه کول کیسه لیکنه کې یو نوښت ګڼل کیږي.

د لارې خاطرې څخه په وروستي هنري نثري ټوټه چې ليکوال په خپل هنري مټ راوړې ده داسې لولو:((په استانبول کې مې په دوو کلونو کې په اول ځل په جامع جومات کې لمونځ وکړ، خو دومره فرصت نه وو چې يو ځلي قونيي ته لاړ شم، د بلخي مولانا زيارت وکړم. د ډاني په غوښته دوه ورځې هلته تم شوم ده يې خپل دوست چې وعده يې وه ورسره پيدا کړي،خو چې هغه پيدا نه شو نو ډاني هم افغانستان ته درتګ فيصله وکړه، د استانبول نه په موټر سره په بېړۍ کې د ايران شمال ترابزان ته لاړو، بيا د شپې او ورځې په مزل مو چې په نوبت مو موټر چلاوه د تهران او مشهد له لارې ځانونه اسلام کلا ته ورسول همدلته دا دريمه پېښه وشوه. زموږ سره د ايران ريال و، څو لوټونه او څه تورې پيسې چې ټول درې سوه رياله جوړېدل، چې په لار د تېلو د اخيستلونه را سره پاتې وې، ما د خدای شکر و ايست چې د وطن په خاوره راغلم او د ډېرې خوشالۍ مې دغه ټول ريالونه هغه سپاهي ته ونيول چې د سرحد په پاټک ولاړ و، هغه دا عجيبه خبره وکړه، تاسو لاړشئ،ګمرګ ته چې موټر راجستر کړئ. ما ورته وويل: دا به وکړو، دغه پيسې درسره واخله، چې موږ ته نه دي پکار؛ هغه په موسکا وويل: دا د غجورو حرامې دي، په افغانستان کې نه چلېږي، د سړي لاس ناولی کوي. وروســـــته پوه شوم د قاجاري شاهانو دورې نه پس زياتره پښتانه هر ايرانی غجر بولي»(ازمون، الف، ۱۳۹۸: ۷۲۲). په دغه هنري نثر کې استانبول، جومات، قونيه، د مولانا(رح) زيارت، افغانستان، ترابزان، تهران او مشهد، اسلام کلا، پاټک او وطن د مکان تصويرونه دي، چې ليکوال په خپل هنري قوت سره په دغه ليکنه کې د زمان او مکان تسلسل په عيني وخت کې ساتلی دی څکه خو په کيسه کې د مکان تر څنګ زمان هم اړين دی.

په يوه بله ځانپېښه کې چې د پوهنتون کالونه تر عنوان لاندې ده داسې لولو:(( کوربه هسې په خوله خو جواب نه کړم، مګر کړې مې ليده چې راباندې تنګېده، غم دا و چې که څه هم ما پوهنتون ته عريضه ورکړه چې زه کليوال يم، د نورو په شان ليله او هاسټل را کئ، خو پوهنتون و نه منله، د عريضې په شا يې وليکل چې تا حبيبيه ليسه ويلې چې نهاري ( دورځې) ليسه ده، ګويا د اوسېدو ځای دې درلود چې دا شپږ کاله دې په کې تېر کړل ؛ نو اوس موږ تا اطرافي نه ګڼو. د مجبورۍ ورځې مې پل خشتي ته مخامخ يوه کوټه د مياشتې په اويا افغانۍ کرايه کړه، بستره او د وريژو بوجۍ مې ور وچلولې، په بله ورځ مې څه وريژې خرڅې کړې، يونيم سل روپۍ شوې، يو لوی پوزی، د تېلو اشتوب، يوه ټيمي ديګچه، کاشغه او نور مې پرې واخيستل، د ژوند دا پړاو مې پيل کړ))(ازمون، الف، ۱۳۹۸ :۷۰۹)

په دغه پورتنۍ هنري نثري ځانپېښه کې پوهنتون، کلی، ليليه او هاسټل، حبيبيه ليسه، اطراف، پل

خشتي او کوټه د مکان تصويرونه دي، چې يو لوی پوزی، د تېلو ټيم، يوه ټيمي ديگچه او کاشغه يې د مکان د اوسېدلو لپاره وسايل گڼل کېږي؛ خو (په بله ورځ ) يې د زمان لپاره نښه گڼلای شو چې د مکان سره پيوست راځي ، دلته ليکوال داسې انځورگري کړې چې له پيله تر پايه پورې په تدريجي توگه په يوه ليوال تللی دی، دا د ليکوال د ليکنې د لاپياوړتيا ښودلو لپاره يو سند دی، بله داچې فورملستان د محتوا تر څنگ فورم ته هم اهميت ورکوي، چې دا د ليکوال د ليکنې ساده والی ښيي.

د همدغې ځانپېښې په يو بل پراگراف کې داسې لولو: ((د ادبياتو په پوهنځي باندې کابليانو د تنبلتون)) نوم ايښی و، د هغې وجه دا وه چې پوهنځی د سردار شاه محـــمود خان د کـــور شاته يوه زړه ماڼۍ وه چې د ده ناظران به پکې او سېدل. اکثر د پکتيا وو او چې موږ ليدل؛ نو ښايسته خلکو زامن وو چې د نادر شاه سره کابل ته راغلي وو، هغه وخت ډېر په غوره کې وو او چې موږ ليدل نو ښايسه دنگ او ښکلي خلک وو، خو نقص يې دا وو چې اوس زاړه، بوډاگان وو، يو څو په کې د لکړو سره گرځېدل. بس پراته وو ډوډی يې د سردار صيب د پخلنځي غوږ ځکالی وو چې په زنبيلو کې ورته راوړل کېده))(ازمون، الف، ۱۳۹۸، ۷۰۹، ۷۱۰). په پورتنۍ نثري هنري ټوټه کې پوهنځی، تنبلتون، کور، زړه ماڼۍ، کابل او د سرادار صيب پخلنځی د مکان تصويرونه راوړل شوي دي، چې پوهنځی يې يو علمي مکان دی، کور او پخلنځی يې نسبتا کوچني مکانونه ښودل شوي دي، زړه ماڼۍ يې يو پخوانی مکان ثابت کړی او کابل يې بيا يو خورا لوی مکان ښولی دی. پاتې دې نه وي چې مکان بې له زمان څخه يوازې نشي راتلای چې دلته نو د ښايسته خلکو زامن وو چې د نارد شاه سره کابل ته راغلي وو، ځکه خو ( راغلي وو) يو زمان دی چې د مکان لپاره راغلی دی.

**پايله**

ټولنه او ادبيات په خپلو کې سره نښلېدونکي اړيکې لري، چې هر يو يې ځانته ځانته پر انسان خپلاغېزې لري، کله چې انساني قوه د خپلو کړنو په تر سره کولو کې بريالۍ او يا هم پاتې راشي، نو له خپل ځان څخه ځيني څرگندونې ښيي، دغه شان ادبيات د انساني ټولنې په ډگر کې د بېلابېلو پېښو انځورگري په هنري بڼه کوي، پښتو ادب چې لرغونې او تاريخي مخينه لري، د يو لړ سياسي، تاريخي او ټولنيزو واقيعتونو تر څنگ په کيسه‌ييز او داستاني ادب کې په تاريخي پاڼو کې په زرينو کرښو ثبت شوي آثار لري، نو شپون صاحب هم د پښتو ادب په دغه ادبي سير کې ځيني آثار کښلي دي، چې خورا ډېر خوندور او په زړه پورې دي، د هغو له ډلې څخه و نه و يو شپون وو د ده هغه اثر دی چې د مکان تصوير په کې خورا ښه څرگند دی.

## ماخذونه

آریا، نثار احمد. (۲۰۱۹). د ناول لیکنې تیوري. کابل: سروش کتاب پلورنځی.

ازمون، لعل‌پاچا .(۱۳۹۸ل).په شګوکې سره زر. د استاد شپون داستاني کلیات. ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه.

الف.(۱۳۹۸ل). د لفظونو شپون.د استاد شپون نثري کلیات.ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه.

ب.(۱۳۹۸ل). په کاڼو کې غمي. د استاد شپون منظوم کلیات.ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه

باجوړی، بریالی. (۱۳۹۹ل). پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ، کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه

الف. (۱۳۹۴ل). په پښتو ادب کې ځانپېژنې، ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه.

عمر، محمد آصف. (۱۳۹۴). ښه ناول وپېژنیئ. مازیګر کتاب پلورنځی

غضنفر، اسدالله. (۱۳۹٦ل). جادوګرهنر، ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

الف. منلی، نجیب.( ۱۳۹۹ل). د ابیاتو دنیا.کابل: ارګ